Afghanistan Digital Library

adl0025

http://hdl.handle.net/2333.1/tdz08kwq



This is a PDF version of an item in New York University's Afghanistan Digital Library (http://afghanistandl.nyu.edu/). For more information about this item, copy and paste the "handle" URL above into a web browser. When referring to or citing this item please use the "handle" URL and not this document or the URL from which you downloaded it.

All works presented on New York University's Afghanistan Digital Library website are, unless otherwise indicated, in the public domain. The images available on this website may be freely reproduced, distributed and transmitted by anyone for any purpose, commercial or non-commercial.

NYU Libraries, Digital Library Technical Services, dlts@nyu.edu

http://hdl.handle.net/2333.1/tdz08kwq Image 1 of 19

# نظامنامهٔ
د
# مقیاساتو

په (٢١) د سنبله په سنه ١٣٠٦ هجري شمسي

په مطبعه کښې د «شرکت رفیق» په ماشینخانه
د دار السلطنهٔ کابل کښې چاپ شویدی

(قیمت یو جلد (١٥) پول)

شماره د چاپ ............ (٢٠٠٠)

طبع اول

بسم الله الرحمن الرحیم

# نظامنامهٔ د معلومو د اندازو، د کزو، د تیرو او نسکو

## تمهید او توتیه

هر کله چه هر یو د انسان، لپاره د چلن د
معاملو او بدلول د حاجتو خپلو، حساب ته
محتاج دی ـ او هغه شی چه معاملی، او
عمومی ملجتونه په واسطه د هغه بدل،
او حساب بېږی، سکې او وزن او گزونه دي

عالمانو د حساب لپاره د آسانی د معاملو،
او نور پوهیدلو د دی حسابو یو
اساس نوے او بهتر چه
لپاره د سکو او وزنو، گزونو اینبدی قاعدے
د اعشاریه دی چه په لس لس تقسیمیږی،
او واحد قیاسی د هغه په اصول د اعشاریه
اضعاف و دوچند او مجریٰ کیږی .

د هر اندازی معلومول چه څوك غواړی،
په یولږ فکر سره پوهیده کیږی ۔ لکن په
افغانستان کښی، وزنو، گزو، سکو، په قسما
قسم رواج موندلی! نه په قاعده د اعشاریه
سره بلکه یوه اندازه او مقیاس هم نه لری
مثلاً یو خروار اتیا سیره، یو سیر شپاړس
پاوه، یو پاو څلور خورد ده، چه تجزیه و تقسیم
اضعاف و جمع ددی، په مختلفو درجو او نوعو

http://hdl.handle.net/2333.1/tdz08kwq Image 5 of 19



سره کېږي.

همداسې کزله شپاړس کړه او هره کړه
له څلور باڼه جوړ شوي دي - قيمت او وزن
د دوې هم يو مقياس او صحيحه اندازه نه لري
له دې مشکلاتو څخه دا چه موږ هميشه په تطبيق
او برابرولو د معاملو خپلو کښې چه له خارجي
کوو، يا په داخل د مملکت خپل کښې، خوځول،
او آخستل کوو، لوی نقصانونه، مادي، او معنوي
په ځان باندې آخستي دي.

له دې جهته لسپاره د پورته کولو د دې
سختيو او خلاصولو د قومي مشکلاتو - او
اصلاح کولو د حسابي نو اقتصاتو - وزنونه
کزونه، سکې د افغانستان په قاعده د اعشاريه
سره و کرزولې شوې - چه آساني، او فائدې،
له دغې بنو قاعدو څخه - افغانيه دولت او ملت

http://hdl.handle.net/2333.1/tdz08kwq Image 6 of 19

(٣):-



ورسیږی.

# اوّل فصل

مادهٔ (١):- مقیاسات او اندازی د مساحت چه په نوم د "گز د شاه" "گز د معمار" "گز د جریب" سره ځای وُه - په "مِتر" باندی بدل شول.

اضعاف او اجزا د مِتر په دا شان دی:-

## (دِ متر اجزاء)

"دهم میتر" مساوی او برابر دی — له لسمی برخی سره د متر

"صدم میتر" مساوی او برابر دی — له سلمی برخی سره د متر

"هزارم میتر" مساوی او برابر دی — له زرمی برخی سره د متر

## (د متر اضعاف)

"لس متری" مساوی او برابر دی — له لس متره سره

"سل متری" مساوی او برابر دی — له سل متره سره

"زر متری" مساوی او برابر دی — له زر متره سره

"لس زره متری" مساوی او برابر دی — لس زره متره سره

http://hdl.handle.net/2333.1/tdz08kwq Image 7 of 19



# دوهم فصل

(۲)؛ مقیاس د وزنو "نخود"، "مثقال"، "خورد"، "پاو"، "چهارك"، "سیر"، "خروار" وُو دا ټول په گرام سره بدل شول (اضعاف او اجزاء د گرام دا رنگه دی)

—(اجزاء د گرام)—

دهم گرام — مساوی او برابر دی — له لسمی برخی سره د گرام

صدم گرام — مساوی او برابر دی — له سلمی برخی سره د گرام

هزارم گرام — مساوی او برابر دی — له زرمی برخی سره د گرام

—(اضعاف د گرام)—

لس گرامه — مساوی او برابر دی — له لس گرامه سره

سل گرامه — مساوی او برابر دی — له سل گرامه سره

زر گرامه — مساوی او برابر دی — له زر گرامه سره

لس زره گرامه — مساوی او برابر دی — له لس زره گرامه سره

# دریم فصل

(۳) وزن او قیمة د نوی سکّے چه پس له دی نه به نرخ د هر شی، او معاملی په دغو سره کیږی له دی قرار دی:

## اوّل

| | سکّی د سرو زرو | نوم | وزن | نرخ |
|---|---|---|---|---|
| الف | | یوه "امانی" | ۶ گرامه | شل افغانی |
| ب | | نیم "امانی" | ۳ گرامه | لس افغانی |

## دوَیم

| | د سپینو زرو سکّی | نوم | وزن | نرخ |
|---|---|---|---|---|
| الف | | یوه "افغانی" | لس گرامه | سل پوله |
| ب | | نیمه "افغانی" | پنځه گرامه | پنځوس پوله |
| ج | | ۲۰ پولی | ۲ گرامه | شل پول |

http://hdl.handle.net/2333.1/tdz08kwq Image 9 of 19



## دریم

د مسوکي نوم    وزن    نرخ

الف ــــــ ۲ پولی ــــ ۲ کرامه ــ دوه پول

ب ــــــ ۵ پولی ــــ ۳ کرامه ــ پنځه پول

ج ــــــ ۱۰ پولی ــــ ۶ کرامه ــ لس پول

(۴) :- نرخ د پخوانیو سکو، په نسبت سره یو بل سکوته چه په خزانو د دولت او په مابین د رعیّت کښې خرڅ او آختلی کیږی، او مروّجي دوی، په دی قرار سره دی :-

یو ولس کابلی = لس افغانی، یوه کابلی = یو توکی پول یوه کابلی قران = پنځه څلویښت پول، یوه عبّاسی = دیرش پول، یوه شاهی = دوه ویشت پول، سنّاری = پنځه لس پول، یو شاهی = دوه پول، دوه پیسی = دری پول. نرخ د قران او د عباسی، او د دی شاهیکي او سنّاری، او شاهیکی چه پاس معلوم شوی دی

http://hdl.handle.net/2333.1/tdz08kwq Image 10 of 19



لپاره د یوی یوی دانی ده چه په بازار کښی ئ
لپاره د آختو د یوشی پول تری جوړه وی او
سکه دیری وی- مثلاً، دوولس شاهیګی یا شپږ
سناری، یا څلور دری شاهیګی، یادری عباسی که
یادو قرانه ولړو، په یوه کابلی روپی بدئ شیږ
نو سکه وغواړو داحساب نه چه یوه روپی کابلی
شوه- پول تری جوړ کړو - په یونوئ پول بانډې
به چلن لري- دغه شانی، له یوی نه ترلس وو سو
پوری، که پول تری جوړ کړو، پائ په افغانی شر
حساب کړو- لرقراره د یونوی پول به
حسابیږی - او که یوولس روپی وی،
په لس افغانی حساب اوبدلیږی

## څلورم فصل دقاعدو داجرآتو

(۵): په رسمی دفترو کښی، له ابتداء د ... کال د

http://hdl.handle.net/2333.1/tdz08kwq Image 11 of 19



(۱۳۰۵) پخوانی وزن، گز، سکی په دخل او
خرج د دولت کښی له نوی وزن، گز، سکی
سره، څرچه امکان وی، تطبیق او برابر والی
به کیږی - تر آخره دهغه کاله، اندازی
وزنونه پخوانی او نوی، حتی الامکان دواړه
د په دفتر ود دولت کښی داخل وی - په سهنه
د(۱۳۰۶) خواه مخواه په دفتر ود دولت کښی، وزنونه
او اندازی، او سکی، پخوانی او نوی دواړه د لیکل کیږی
په سنه د(۱۳۰۷) کښی، کر حساب دانان د دفتر
په پوهیدل نه خپلو باندی، په نوی وزنو، او اندازو
داړه وی پخوانی وزن او گزه له دفتره څخه محو
او لری کړی - نوی وزن، او مقرر د په قید د قلم
کښی راولی - او که بعضی حساب دانان
چوره پوهیدلی نه ندلری او تر آخر د سنه (۱۳۰۷)
پوری هم، وزنو نه، اندازی نوی او زده کړی،

http://hdl.handle.net/2333.1/tdz08kwq Image 12 of 19



په رسمي دفترو کښې، داخلولی شي.

(۶):- لپاره د چلن د معاملو د رعیّت، له قسمو د تیرو د وزنو او مترونه په قدر د کفاف، سره د دولت له لوري، نوي، جوړ شوي، او تولو ځایو د افغانستان ته تقسیمیږي.

(۷):- وزني تیرې د تلو او مترونه، په مرکزو د ولایتو کښې، کړ اداره د بلدیه موجوده وي، په واسطه د کاردارانو د بلدیئي سره او په نورو ځایو کښې، په واسطه د قوماندانانو د کوتوالی سره تقسیمیږي - همغسې شان، په حکومتیو او په علاقه دارو کښې چه وظیفه د کوتوالي، د حکامو او د علاقه دارانو په غاړه ده، - د دوی په واسطه سره تقسیمیږي. -

(۸):- نوي تیرې، او مترونه، په ټول مملکت د افغانستان په یو عاد لانه قیمت سره بیعه کیږي

چه قیمت د هغو له وزارت مالیې څخه معلومیږي-
هغه څوك چه قیمت ئې نقد ورکولی نه شي - تر
شپږ میاشتو پورې په هغو سره قسط ورکړ شي

(۹):- د چودن، او ژیړو، او وسپنو زړې ټیټې - او د سپینو
پخواني ګزونو چه رعیت څخه دي - او هغه ځایونه چه
نوي تیږي تقسیمیږي، وائي وړي، له دوی څخه
په قیمت سره د هغه شي اخستل کیږي-
په عوض د هغو، کښې، نوي تیږي، او مترونه په
قیمت سره ورکول کیږي .

(۱۰):- هغه څوك چه د دولت له لوري، اجازه ورکړه
وشي، له دغو مقیاسو، اندازو، څخه، دوی هم
په نمونه د هغه مقیاسو چه د دولت له خوا
جوړ شوي دي، د ننه په افغانستان کښې جوړه
واهی شي، په مُهر د نشانه د مقیاسو، چه په ولایتو
او اعلیٰ حکومتو کښې سته مهر وي به ئې - پلو

http://hdl.handle.net/2333.1/tdz08kwq Image 14 of 19



مهرونو نخه ،لهواو، خوشولو آخستلو په دغو مقیاسونو سَرَه بَه وُشی .

(۱۱)-په بانکو، اوکلیو کښی، چه په نوی تیږو سره خرڅول او آخستل کوی- له دو مُهرشوی ،تیږو سره به نوری تیږی برابره وی- او ترهغه وقته پوری چه دحکومت له خوا دوی تر مهر شوی ، تیږی جوړی او ورکولی کیږی ، په دو سره تلل او معاملی کولای شی .

(۱۲)-په مرکزو کښی ،که رعیت پخپله له دغو لیباطواو مقیاسونه لپاره د اجرا د معاملو خپلو جوړ کړیوی سم له (۱۴) قاعدی سره بازخواست کاوه شی .

(۱۳)-هغه مقیاسونه اندازی ،چه په مرکزو د نائب الحکومګیو او اعلی او لویو حکومتیو کښی مهر د نشان د دولت نه لری ، له درجی

http://hdl.handle.net/2333.1/tdz08kwq Image 15 of 19



د اعتبار څخه ساقطې بللې کیږي - .

مأمورین د بلدیه او قوماندانان د کوتوالی همیشه
به باخبري کوي، چه پر هغو مرکزونو کښې، په دغه
مقیاسونه سره بې له مُهره د نشان څخه داد او گرفت
څوك ونکړي - که څوك بې له نشانه د دولت څخه
مقیاسونه د وزن، او د میټر په دغه ځایو کښې استعمال
کړي - سم له قانونه سره د جزای عمومي جزا
مومي - .

(۱٤):- په هغه مقیاسو کښې چه په مُهر د نشان د دولت
سره وي - یا نوري تیزې چه په دمات او کلیو کښې
له جل یده تیرو سره برابري وهي - تفاوت او
فرق منله شي - هغو کسانو ته چه دا تیري استعمالوي -
سم له جزای عمومي سره تعزیري مجازات ورکول
کیږي - .

(۱۵):- له سنه د (۱۳۰۵) تر آخره د (۱۳۰۷) نوي تیري

http://hdl.handle.net/2333.1/tdz08kwq Image 16 of 19



د وزن او مترو په رعیّت کښې شروع کېږي
له ابتدا د سنه د (۱۳۰۸) نه، پخوانی وزنونه،
او گزونه، بالکل پرېښودل کېږي - که په
سنه د (۱۳۰۸) کښې په پخوانی تلو او گزو سره څوك
داد او گرفت وکړي - جزای تعزیری به موجب
دا نظامنامه په جمله د نورو نظامنامو د دولت کښې
منظور او په اجرا کولو د حکم د موادو د دې
سره امر او اراده کوو

ددی غلطنامې هغه خطاوونه د نظامنامې په مقابل کښې
چه په چهاپ کښ غلط شوی دی تصحیح دې کړل شي!

| مخ | کرښه | دچهاپ شوی ید | داسې دې لوستل شي |
|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | دمعلوم داندازو | دمعلومولو داندازو |
| 〃 | ۸ | ماجتونه | حاجتونه |
| 〃 | ۹ | اوحسابیو | اوحسابیوی |
| ۲ | ۱۴ | پوپاد | یوپاو |
| ۳ | ۴ | وولي | سرولي |
| ٤ | ۳ | مادة (۱) | ماده (۱) |
| 〃 | ٤ | کوددجریب | کزدجریب |
| 〃 | ۱٤ | ژر ماتزی | تر وماتزی |
| 〃 | ۱۵ | لس وز | لس ور |
| [illegible] | ۳ | پلو | پاو |
| ٦ | ۲ | نه په نرخ | نه به نرخ |
| 〃 | ٤ | قرادی | قراره دی |
| ۷ | ۸ | اومروجی دو | اومروجی دی |
| 〃 | ۱۱ | یوه کابلی | یوکابلی |
| 〃 | ۱۳ | یوشاهی | یوه شاهی |
| ۸ | ۵ | دوقرانه | دوه قرانه |
| 〃 | ۹ | پائی | یائی |
| ۹ | ۱۳ | روالی | والعړی |
| ۱۰ | ۱۲ | ده ده دوی | دی ده دوی |
| ۱۱ | ۹ | سره دوکول | سره دوی ترو کول |
| 〃 | ۱۱ | دری | دوی |
| ۱۳ | ۱۳ | دوگولی | دوکول |

په مد

شماره